لابلق

تا

# نفلي لمونځونه

مؤلف: نیک محمد مصطفی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استخاري لمونځ :

که چیري سړی د کوم کار اراده وکړي او دهغه په شروع کې د شک او تردید په حال کې وي یعنی نه پوهیږي چه پدې کار کې به زما خیر وي او که شر نو پداسې وخت کې مسلمان ته پکار ده چه د الله تعالی څخه مشوره او صلاح وغواړی چه هغه د استخاری لمونځ او دوعا ده.

په حدیث شریف کې ددی ډیر ترغیب راغلی دی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه د الله تعالی څخه صلاح او مشوره نه طلبول او استخاره نه کول د بدبختی او کم نصیبۍ خبره ده که چیری څوک واده کوي او یا د سفر اراده لري نو استخاره دې وکړي ان شآء الله چه نتجه به یې ښه وي.

درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : د استخاری کوونکی کله هم نه نامراده کیږي او مشوره کوونکی کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه پښيمانه کيږي او له اقتصاد او کفايت څخه کار اخيستونکی کله هم نه اړ کيږي .

د استخاری د لمانځه  طريقه داده چه اول به دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او د لمانځ نه وروسته به په اخلاص او ښه نيت دا دعا ووائي .

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسَأَلُكُ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلا أَقْدِرُ، وَتَعلَمُ وَلا أَعلَمُ، وَأَنتَ عَلاَّمُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنتَ تَعلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَيَسِّرهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنتَ تَعلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفنِي عَنهُ وَاقْدُرْ لِيَ الخَيرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرضِنِي بِهِ. (بخاري ،مسلم او ابن ماجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چه په مخکني دعا کې هَذَا الأَمْرَ ته ورسيږي کوم کار چه قصد او اراده يې لری هغه به په زړه کې را وګرځوي.

بيا به په اداسه مخ پر قبله بيده سي ځينو صالح او ښو خلکو ويلي چه که په خوب کې سپين او شنه شيان ووينی ښه به وي او که تور او سره سی ووينی بد به وي او که هيڅ خوب ونه وينی نو بيا به د زړه ارادی ته ګوري چه زړه يې پر هره لاره مايل وي همغه لاره به غوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحاجت لمونځ:

که سړی له داسې کار سره مخ شي چه د زحمت او د اسباب کارولو باوجود نه پوره کیږی یا یې پوره کول سخت وي نو په ښه شان به اودس وکړي دوه رکعاته لمونځ به د صلات حاجت په نیت سره وکړی وروسته به دخدای ج حمد او ثنا او درود شریف ووائي او دا دعا دې ووائي :

لا إِلَهَ إِلاَّ الله الحَلِيمُ الكَرِيمُ، سُبحَانَ رَبِّ العَرشِ العَظِيم الحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالمِينِ، أَسأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحمَتِكَ وَعَزَائمَ مَغفِرَتِكَ وَالغَنيمَةَ مِنْ كُلِّ برٍّ، وَالسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْم، لا تَدَعْ لي ذَنباً إِلاَّ غَفَرْتَهْ وَلا هَمَّاً إِلاَّ فَرَّجْتَهْ، وَلا حَاجةً هِيَ لَكَ رِضاً إِلاَّ قَضَيتَهَا يَا أَرحَمَ الرَّاحمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صلات تسبیح لمونځ :

ددی لمونځ کول لوی فضیلت لري ددی لمونځ په کولو سره د انسان وروسته اومخکی ټول ګناهونه الله تعالی ور معاف کوي دا لمونځ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اکا عباس رضی الله عنه ته ښودلی وو او ورته فرمایلی ئی وه چه که ئی کولای سی نو دا لمونځ هره ورځ کوه که هره ورځ نه وي هره جمعه ئی کوه او که ئی هره جمعه نه سی کولای نو په کال کې ئی یو وار کوه که په کال کې ئی یو وار هم نسی کولای نوپه ټول عمر کې ئی یو وارې ضرور او خامخا کوه.

ددی لمانځه څلور رکعتونه دي د نور لمونځونو پشان دی یواځی تسبحات پکې زیات سوی چه په همدې وجه د تسبیح لمونځ بلل کیږي د کولو طریقه په لاندې ډول ده.

دغه تسبحات به په لاندی ترتیب سره ویل کیږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ للهِ وَ لاَ اِ لٰهَ اِ لاَّ اللهُ وَ اللهُ اَكْبَرُ

چه نیت وتړي تر ثنآء یعنی سبحنک اللهمَّ وروسته دا تسبحات پنځلس ۱۵ واره وائی بیا تر اغوذ بالله ،بسم الله ،الحمدالله او سورة وروسته لس ۱۰ واره بیا په رکوع کې تر سبحان ربی العظیم وروسته لس ۱۰ واره بیا د رکوع نه وروسته په قومه کې لس ۱۰ ځله بیا په اوله سجده کې تر سبحان ربی الاعلی ویلو وروسته لس ۱۰ واره بیا په جلسه کې (د دواړو سجدو تر منځ کیناستل ) لس ۱۰ ځله بیا په دوهمه سجده کې هم لس ۱۰ ځله وا ئي چه دا تسبح به په یوه رکعت کې پنځه اویا ۷۵ ځله کیږي ددی څخه وروسته به دوهم رکعت ته پورته سي د الحمدلله څخه مخکې به پنځلس ۱۵ ځله دا کلمی ووا ئي ،همدارنګه په پاتی رکعتونو کې په همدی ډول لوستل کیږي چه په څلورو رکعتونو کې دغه کلمی دری سوه ۳۰۰ واره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لمونځ بغیر له مکروهه وخت ( لمر راختل ، لمر پریوتل او غرمه ) څخه بغیر نور پر هر وخت کې کیږي.

## د تهجد لمونځ:

. د تهجد منعی ده خوب ماتول اوپاځیدل

دفرضي لمانځه وروســــــــــته ترټولو غوره لمونځ دشپې [ دتهجد] لمونځ دی.

په حدیث شریف کې راغلی دي چې د شپی د اخیری حصی دوه رکعته لمونځ دټولی دنیا نه بهتر دی که چیری ماته د امت دمشقت او تکلیف ویره نه واي نو په امت به می فرض کړی واي.

دشپی په ورستی برخه کې الله ج د ځمکی اسمان ته نزول فرمایي او وایی سته څوک ماته فریاد او آواز کونکی چې ماته آواز وکړی او زه یې فریاد واروم ،له مانه وغواړی او زه یې ورکړم ،له مانه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړی او زه ورته بخښنه وکړم (بخاری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوامامه رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسو ته بنایي چې په شپه کې خپل رب ته ودرېږئ ځکه چې ستاسو نه د وړاندې تیرو سوو نیکو وګړو هم عادت همدا و، دا ستاسو رب ته تاسو نیږدې کوي ، ګناهونه مو له منځه وړي او ځنی مو تری ساتی ( ترمذی)

دتهجد د لمانځه وخت د ماسخوتن له لمانځه وروسته تر رښتینی سبا پورې کیږی خو غوره وخت یې د شپې آخره حصه ده.

د تهجدو دلمونځ ترټولو کم مقدار ۲ متوسط یې۴ او زیات یې ۸ یا ۱۲ رکعتونه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تحية الوضو او تحية المسجد:

د اودس کولو وروسته چې فوراً دوه رکعته نفل لمونځ کوي چې ډیر ثواب لری دغه نفلو لمونځ ته تحية الوضو وايې په حديث شريف کې ددی ډير فضيلت راغلی دي.

همدارنګه جومات (مسجد) ته د داخليدو سره سم دوه رکعته نفلو کولو کې ډير ثواب دی دغه لمونځ ته تحية المسجد وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صلوة الضحی (د څاښت لمونځ):

کله چې لمر ښه راوخيږي او رڼا ښه خپره شي نو د ځاښت د لمانځه وخت شروع کيږي او له زوال نه مخکې پورې دوام لری دغه لمونځ څلور رکعته دی نبی ص به ددی لمانځه ډیر اهتمام کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صلوة الاوابين :

صلوة الاوابين له ماښام لمانځه وروسته ادا کيږي رسول الله ددی لمانځه ډير فضيلت بيان کړی دی او د کولو ترغيب يې کړی دی دا لمونځ له تهجد لمونځ څخه دوهمه درجه فضيلت لری.او په کولو سره يی الله ج بنده ته د دولسو کالو د عبادت برابر ثواب ورکی.

د اوابين لمونځ دوه دوه رکعته ټول شپږ رکعته کول پکار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صلوة توبه:

له هر انسان څخه ګناه کیږي کله چې له بنده څخه کومه ګناه وسی نوپه پښیمانتیا سره د خدای ج په وړاندې دعاجزی او خپلی ګناه د بخښنی غوښتلو لپاره دوه رکعته نفل کول مستحب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کسوف لمونځ:

کسوف لمونځ د لمر توریدو په وخت دوه رکعته لمونځ په جمع سره کیږي په دواړو رکعتو کې اوږده اوږده سورتونه لکه بقره او ال عمران ویل پکار دی رکوع او سجده کې هم ډیر وخت تیرول پکار دی.

د کسوف د لمانځه لپاره آذان او اقامت نسته او د خلکو د جمع کولو لپاره اعلان روا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خسوف لمونځ:

د سپوږمۍ توریدلو په وخت کې چې دوه رکعته لمونځ کيږي دې لمونځ ته د خسوف لمونځ وايي دغه لمونځ هم دوه رکعته سنت لمونځ دی چې بې له جومات او بې له جمعی

ادا کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استقاء لمونځ:

د استقاء معنی ده اوبه غوښتل یعنی کله چې د اوبو ضرورت سي او باران نه کیږي د باران غوښتلو لپاره دوه رکعته لمونځ کیږي او دخدای ج نه د اوبو غوښتلو سوال کول سنت دی . دغه لمونځ په یوه بیدیا ، میدان یا عیدګاه کې کیږي په جمع سره کیږي د لمانځه نه پس به امام یا د مسلمانانو حاکم د جمعی او اخترونو په ډول دوی خطبی وایې او په پوره عاجزی لوړ آواز به دعا کوي لومړی به د خپلو ګناهونو د بخښنی لپاره دعا کوي بیا د باران غوښتلو دعا کوي.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مؤلف راتولونکی کتابونه

١ د خوب تعبیر
٢ د الله ج د ٩٩ نومونو فضلیت
٣ اتیا نبوی حدیث
٤ افغانستان کی د انگریز ماته او د امریکا راتگ
٥ قرانکریم به ترجمه فارسی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**